# د مغلو مکتبونه

ورومبۍ برخه

**حضرت زبېر زبېر**

د پښتو يو متل دے "پښتون وائي چې ايمان دې لاړ شي خو پښتو دې نۀ ځي" يا په بل يو متل کښې وئيلے شي چې "پښتون په پښتو مري او په حيا پائي".

اوس چې مونږ د دې دواړو متلونو په تناظر کښې د دې خپل وطن چاپېرچل ته ګورو نو لور په لور او کور په کور پرېوانه خو بې بره او بې علمه مدرسې د تعليم او پوهې د رسولو په کار اخته دي چې په هغې کښې د سرکاري تعليمي ادارو سره جختې ذاتي (پرائيوټ) تعليمي ادارې هم د دې خاورې د سربازانو بچو په ژوند لوبې کوي.



دلته زۀ د دغې ټولو مدرسو په ښۀ او خراب حالت بحث مناسب نۀ ګڼم چې په دغې تنګو کوټګو کښې زمونږ د بچو دپاره د ناستې پاستې څۀ بندوبست دے، د ښنلو د اوبو، د لوبو د مېدانونو او يا نور د يو ماشوم بنيادي ضرورت تر کومه حده پوره کوي ځکه چې ډېرې مدرسې داسې هم شته کومې چې د پېرنګيانو له زمانې نه هم زړې ابادۍ لري او يا خو د هندوانو درمسالونه دي، پښتانۀ واړۀ پکښې په تورو خاورو کښې داسې سوے سکور وخت تېروي لکه څنګه چې په جېلونو کښې قېديان.

دلته دا خبره هم سپيناوي ته رسول نۀ غواړم چې ملکي سياست، د دې وطن نظام تعليم او معيار تعليم څنګه او په کومه ناشولته طريقه متاثره کړے دے چې د سياستدانانو په چاپلوسۍ او سفارشونو چې کوم استاذان او استاذانې په دغې سرکاري مدرسو کښې اخستلي شوي دي، د هغوي د علم معيار څۀ دے؟ د هغوي کار او کردار، فعل او عمل څومره ښکلے دے او څومره ناولے.

په دې ليک کښې کۀ چرې د حالاتو سره دا رښتيني وشي چې زمونږ د ملک هره حکمرانه ډله د تعليم دپاره بجټ څو اربه روپۍ مقرروي، د تعليم د معيار ښۀ کولو په ارمان نوې نوې تعليمي پاليسۍ جوړوي، منصوبه بندۍ کوي، په لويو لويو هوټلونو کښې غونډې کوي، سيمينارونه او ورکشاپونه کوي، په دې لړ کښې د دې غريب او قرض داري ملک بې دريغه سرمايه

ډېره په بې رحمۍ ضائع شي او کال په کال په مونږ دا زېرے کېږي چې د دې زمکې په مخ د تعليم په مېدان کښې د ټولو نه پاتې ملک پاکستان دے. باوجود د دې چې زمونږ د ملک د ازادۍ دوه شپېتۀ (٦٢) کاله وشو ګني زمونږ نه کمزوري او تر زمانو غلام قامونه او ملکونه زمونږ نه ښۀ دي چې د هغوي د تعليم معيار او د خواندګۍ شرح زمونږ نه اوچته ده خو صد افسوس چې د ازادۍ زمانه ئې رانه بره ده. زمونږ د هرې تعليمي پاليسۍ د ناکامۍ غټه وجه دا ده چې د نړۍ د تعليم پوهان او عالمان په دې يوه خبره يوه خُلۀ دي چې د تعليم دپاره د خپلې مورنۍ ژبې نه علاوه بله يوه ذريعه هم سودمنده او کاميابه نۀ ده خو د هغې باوجود دا مفاد پرسته دانشوران د اورنګ او پېرنګ په ژبو پورې کلک نښتي دي خامخا د دې پښتون وطن تنکي ماشومان د غلامۍ په زنځيرونو تړل او په علمي لحاظ سره تباه کول خپله ذمه واري ګڼي.

ګني تاسو وګورئ د علامه اقبال اوپن يونيورسټۍ د پي، ټي، سي) پرائمري د سطحې د استاذانو د تربيت د اردو کتاب مرتبين ليکي.

"ژبه يو فطري عمل يا څيز دے او د علم د زدکړې يوه اهمه او موثره ذريعه ده. د دې شروع يا ابتداء د خپل کور او د مور د غېږې نه کېږي. سکول ته د تلو نه وړاندې ماشوم په خپل ماحول کښې ډېر څۀ زده کړي وي او دغه د لفظونو سرمايه (چې کوم ماشوم زده کړې وي) داسې ده چې وروستو په دې بنياد د علم ډېر لوئے عمارت ودرېدے شي".

دوي مخکښې ليکي "مدرسې ته د تلو نه وړاندې بچے چې کومه ژبه په کور، کلي کوڅه کښې



اوري نو د دې نه د علم د حاصلولو نيمه مرحله تر سره شوه".

د دې دومره لوئے اعتراف او اقرار نه پس بيا داسې کوم جواز جوړېږي چې په دې خاوره کښې کۀ د سرکار مدرسه ده او کۀ د يو بادار تعليمي اداره چې د دې ژوندي قام د هر تنکي ماشوم نه د خپل ماحول، کور، کلي کوڅې او حجرې د علم لويه پنګه وتروړلې شي او د مدرسې په درشله ورته داسې فرمان جاري کړے شي چې دلته به خبرې اترې هم په پردۍ ژبه کښې کوې، د هغوي په معصومو ذهنونو د نورو ژبو کروندې ته او دغې لاره نيولو ته خو زمونږ دې خپل دين هم په درنه سترګه نۀ دي کتلي. ګني وګورئ چې قرآن مجيد په عربۍ ژبه کښې په عربي رسول(ص) نازل شوے دے او په هغې کښې الله تعالې په خپله فرمائي چې "او نۀ دے لېږلے مونږ هيڅ يو رسول مګر خو په ژبه د خپل قوم، دپاره د دې چې بيان کړي دوي ته امر و نهې د الله تعالې". (سورة ابراهيم).

بيا داسې کوم ټُک جوړېږي چې مونږ خپله هم دا منو چې د مور غېږه د بچي ځانګو ده او په دغه مينه ناکه ځانګو کښې چې هغه له خپلې پتمنې مور

نه په خوږه او شیرینه خُلهٔ کومې خبرې او سندرې اورې، د هغې په ژبه ورته بندېز ولګوو. د پېغام د رسولو د پاره ورته نورې نورې ژبې په استعمال کښې راولو او د هغې په ذریعه ورته علم ورښیو، حالانکې امام غزالي، ابن خلدون او روسو غوندې لوئې خلق په خپله مورنۍ ژبه کښې د علم د ورکولو په حق کښې دي. جې، ایچ لارنس هم وئیلي دي "د علم حاصلولو وړومبنۍ پوړۍ خپله مورنۍ ژبه ده".

زهٔ دا خبره منم چې د دې صوبې خدائې بخښلي ګورنر فضل حق په خپل وخت کښې پښتو ژبه تر پنځم جماعت پورې د تعلیم ذریعه ګرځولې وه چې په هغې ځنې ځنې علاقو کښې عمل وشو او ځنې خلقو دغه کوشش ناکامه کړو. اوس دلته عجیبه خبره خو دا ده چې د پرائمري استاذانو له چې کوم د تربیت نصاب ورکړے شوے دے نو هغه په پښتو کښې نهٔ دے کله چې دوي د پي ټي سي ټرېننګ وکړي او بیا خپلو خپلو مدرسو ته لاړ شي نو هلته ورته نصاب په پښتو ژبه کښې وي، دوي ته بیا دغه کتابونه څهٔ عجیبه عجیبه ښکاري چې استاذ صاحب ئې په پښتو ژبه نهٔ پوهېږي او روګودر ترې خطا وي، بره بره اسمان ته ګوري. دغه کوشش به څهٔ د کامیابۍ سره مخ شي.

بل خوا چې وکتے شي نو د شپږم جماعت نه واخله تر لسمه پورې پښتو په ټولو تعلیمي ادارو کښې د یو اختیاري مضمون په حېث ښودلې شي خو د پام لرنې جوګه خبره بیا دا ده چې دلته په دې مدرسو کښې کوم استاذان او استاذانې ناستې دي، هغوي ځان ته پښتانهٔ تعلیم یافته وائي، تل تر تله ئې په پردي فکر سر ګرولے دے او په خپله ختېه ئې بد وئیلي دي. په قرآن ئې دا ژبه او د دې مضمون خپلې مدرسې یا ادارې ته نهٔ دي پرېښودې. دوی هر څوک وارهٔ ماشومان دې ته مجبوروي چې هغوي د پښتو ژبې مضمون وانهٔ خلي، تر دې چې په ډاګه ورته وښنا کوي چې د پښتو نه څهٔ نهٔ جوړېږي، داسې دوي د دې تنکو ماشومانو په زړونو او ذهنونو کښې له خپلې ژبې نه سخته کرکه او نفرت پېدا کوي. بیا دغه هلکان او جینکۍ هم په خپلې مورنۍ ژبې پورې خاندي او پچموزې کوي.

حالانکې په قامي ژبه دوي ته د نهم لسم په اردو کتاب کښې مولوي عبدالحق واضحه ټکو کښې لیکلي دي چې "کوم خلق د خپلې قامي ژبې د استعمال نه شرمېږي نو په هغوي کښې قامي غېرت نهٔ وي او چې کوم سړي کښې غېرت نهٔ وي نو هغه مړ دے او مونږ دا نهٔ غواړو چې زمونږ په اولس کښې دې د مړو اکثریت وي".

د دغې مکتبونو استاذان عالمان کهٔ په دې خبره نهٔ پوهېږي نو هم په دغې کتاب کښې د صلاح الدین احمد د دې مضمون دا کرښې دوي له څهٔ احساس ورکوي. هغه لیکي "چې کله د چین وزیراعظم دې ملک ته راغے نو یارانو غوښتل چې د هغهٔ نه به په انګرېزۍ کښې څهٔ واوري خو هغهٔ د دې وښنا سره لکه چې زمونږ قامي غېرت له څپېړه ورکړه "چین ګونګے نهٔ دے" مطلب دا چې خپله ژبه لري،



بې شکه چې چېن ګونګے نۀ دے خو مونږ ړاندۀ هم
يو او ګونګيان هم.

بيا بل ځائے کښې د نهم لسم يو بل د اردو په کتاب کښې په قامي ژبه مولوي عبدالحق ليکي چې "ژبه د خيال د ظاهرولو يوه ذريعه نۀ ده بلکې د ژوند ترلے جز دے، کوم سړے چې دا وائي او په استعمال کښې ئې راولي هغه د خپل حېثيت مطابق په خپل ژوند کښې څۀ نا څۀ نخښې ضرور پرېږدي. په دې کښې زمونږ د تهذيب و تمدن، خيالاتو، جذباتو تجربو او مشاهدو تاريخ پټ دے. هر يو تورے يو ژوندے څيز دے چې د خپلې ځُلې حکايت په خپله بيانوي. زمونږ مشرانو په څومره محنت او کړاؤ زمونږ د قامي ژبې پالنه کړې ده او د خپلو وينو په اوبۀ خور ئې دا ساتلې ده چې نسل په نسل مونږ ته رارسېدلې ده. دا يو مقدس ميراث دے او مونږ د دې وارثان يو. مونږه به ناخلف او نافرمان يو کۀ چرې دا مو قائمه نۀ کړه او د دې د ترقۍ دپاره مو وس او محنت ونۀ کړو.

(مرقع اردو پنجاب ټېکسټ بُک بورډ)

اوس کۀ چرې څوک پښتون راپاڅي او په دې پوه ونښلي چې زمونږ قامي ژبه اردو ده نو هغه ناپوهه دے او هغه دې دا پوښتنه د خپلې مور يا نورو قامي مشرانو نه وکړي چې زما قامي ژبه يا





زمونږ د اولس ژبه کومه ده. نو هغوي به ئې په معنې پوهه کړي.

د دغې مکتبونو يا تعليمي ادارو استاذان او استاذانې کۀ په دغې کرښو غور نۀ ګروي نو بيا ورله دا بې ايماني هم نۀ ده پکار چې د خپلو تنخواګانو د زياتولو دپاره (انکرېمنټ لګولو په هوس) ماسټر ډګري په دې ژبه کښې اخلي او بيا لکه د کارغۀ هم مښوکه څنډي.

کۀ څوک دا خبره کوي چې په پښتو ژبه کښې علم نشته يا دا څۀ ژبه ده نو په دې لړ کښې زۀ د بابا د فکر د مشالونو نه رڼا اخلم. هغوي ليکي چې "د تعليم يافته کسانو سره به مې چې د ژبې په باره کښې خبرې اترې وکړې راته به ئې وئيل چې پښتو لا څۀ ژبه ده، په دې کښې علم نشته، ما وئيل هلکه! دا نورې ژبې خو د اسمانه نۀ وې راکوزې شوې، د هرې ژبې ويونکيو خپلې ژبې ته ترقي ورکړې ده. پښتنو چې خپلې ژبې ته توجه نۀ ده ورکړې، دې کښې د پښتو ژبې څۀ ګناه ده. دا خو زما ستا ګناه ده، د خپلې مورنۍ ژبې سره د سکولونو او کالجونو د استاذانو صاحبانو د منافقت اندازه تاسو د دې صوبې د هر يو انټرميډيټ اېنډ سېکنډري بورډ د کليزو نوټونو څخه ښۀ په اسانه او واضحه طريقه اخستے شئ.

(نور بيا)